# د مرزا خان انصاري په شاعرۍ کښې د رومانیت څرک (تحقیقي او تنقیدي جائزه)

# The spark of romanticism in the poetry of Mirza Khan Ansari (Investigative and critical review)

Dr. Nasrullah Majnoon*
Dr.Bad Shah I Room (Daryab Ali Khel) **

**Abstract**

The early Pashto literature is trace back to the Roshani school of thought. The main subject of the poetry of the said school of thought was the promotion and propagation of the teachings of Bayazed Ansari, Pir Rokhaan. Almost everyone has the opinion that those teachings are of the Sufism. The Sufism is something else and the Roshani teachings are the new self-made way which was followed by the people who were not supposed to be the follwers of the real Sufism. The said school of thought has many Pashto poets who put the foundational stone of the Pashto literature specially poetry. One of them is the Mirza Khan Ansari who belonged to this school of thought and also follow the other writers of the said School of thought and wrote poetry about and on the ideology and teachings of the Pir Rokhan. On the other hand when we study the poetry oof Mirza Khan Ansaari we may find the fragrance of romanticism as well. This aspect of poetry makes him distinguished from others who are from the same school of thoughts. This paper is going to discuss the romanticism in the poetry of Mirza Khan Ansaari with his short life background and also explore the subject of Romanticism shortly. The primary source of the paper is the Dewaan of Mirza Khan Ansaari and for the references, there are different sources including internet.

**Keywords:** Roshani School of thought, Sufism, teachings of Pir Rokhaan, Followers of Pir Rokhan , Ideology, Romanticism, primary source.

---

* Assistant Professor, Department of Pashto Islamia College University Peshawar
** Associate Professor, Pashto Department University of Malakand.

روښاني مکتب د پښتو ادب د دوېم دور هغه مکتب دے چې د پښتو ادب د پاره د معلومې ادبي پنګې خواږۀ هم لري او د ابتدائي دور نه پرته د نوي انداز موضوع تنوع هم. دغه مکتب کښې چې کوم شاعران دي د هغوي اکثريت کښې هغه دي کومو چې د خپل پير د تعليماتو او افکارو د ترويج او تشريح سره سم په ډېر عقيدت تبليغ کړے دے. ادب د خپل دور سره د يو خاص فکر او نظريې ترجمان وي.هر ليکوال د يو خاص نظريې پلوي وي او په خپلوتخليقاتو کښې د هغې نظريې ترويج او اشاعت په شعوري يا غېر شعوري توګه کوي. د روښاني مکتب چې څومره هم معلوم شاعران دي هغوي د شاعرۍ نه د خپل پير د نظريې او افکارو د ترويج کار اخستے دے. په دغه شاعرانو کښې يوه نامه د مرزا خان انصاري هم ده.

مرزا خان انصاري په ۹۸۹هـ خوا اوشا پېدا شوے او په کال ۱۰۴۰هـ کښې ئې د دې فاني دنيا نه د دکن په جنګ کښې کوچ کړے دے. هغه د پښتو يو ستر شاعر او ليکوال وۀ. د مرزا خان په حقله ډاکټر پروېز مهجور ليکي:

"دا خبره هم صحيح نۀ ده چې دے په قام يوسفزے وۀ ځکه چې دے د پير روښان نمسے او د نور الدين زوے وۀ. دے په قام برکي اورمړ او په خاندان انصاري وۀ."[1]

مرزا خان انصاري د نورالدين زوے او د پير روښان نمسے وۀ. د خپل ترۀ جلال الدين د لور بي بي نور خاتون سره ئې وادۀ شوے وۀ. د بي بي نور خاتون د مور نوم بي بي بصري وه چې د بنګش قبيلې سره ئې تعلق لرلو. هغه د احداد د ښځې الائي بي بي او الله داد (رشيد خان انصاري) خور وه. داسې هم وئيلې کېږي چې د بي بي نور خاتون نه علاوه د مرزا خان انصاري دوه نورې ښځې هم وې خو د هغوي په حقله نور معلومات نشته.

مرزا خان انصاري د روښاني مکتب وړومبے شاعر دے چې پښتو ته ئې په هر لحاظ يو مکمل غزل ورکړے دے. هغۀ د خپل پير د تعليماتو سره سم د غزل په هيئت او موضوعاتي اړخ نوې تجربې وکړې. هم دغه وجه ده چې د پښتو غزل ډېر ستر نومونه د هغۀ د غزل نۀ يوازې تعريف کوي بلکې د معيار په حواله ئې هم پوره ګڼي. خوشحال بابا چې د خپل فن او فکر په حواله د حسن تعلۍ ښکار وۀ او هيڅ يو چا کښې ئې د فن خواږۀ په هغه معيار نۀ موندل کوم چې د وخت ضرورت او تقاضه وه هم هغه ئې په صفت رطب اللسان دے:

د چا نه په پښتو کښې ما ميزان ليدلے نۀ دے
مرزا په دا زبان کښې وئيل کړي دي تللي[2]

د ستر خوشحال دغه الفاظ د مرزا خان انصاري د علمي او ادبي مقام او حېثيت ټاکنې کښې لوے حېثيت لري. د دې سره سم د پښتو ژبې هغهٔ هستي چا چې ژوند ته د يو معشوق په نظر کتلي دي او په افکارو کښې نهٔ يواځې عالمګيريت لري بلکې پښتو ادب کښې د يو ځانګړي اسلوب خاوند دے هغه ورسره هم د تعلی په شعر کښې د ځان موازنه کوي. دغه عالمګير شخصيت د رحمان بابا دے.

د مـــــرزا د ارزانـــــي دعـــــوې بـــــه پـــــرې کـــــه
قـــــدردان د شـــــاعرانو رحمـــــان راغـــــے3

اګرچې د مرزا خان شاعري د نورو روښانيانو په شان د پير روښان د افکارو او نظرياتو په دائره کښې تاوېږي خو ولې بيا هم د هغهٔ انداز د نورو نه منفرد هم دے روماني هم او جانانه هم. د مرزا خان شاعري د فکر په لحاظ کهٔ مشکله ده نو په لفظي لحاظ هم اسانه نهٔ ده. د هغهٔ غزل د هندي، فارسي او سنسکرت په لفظونو مزين ښکاري. هم دغه وجه ده چې د عوامو د پوهې د سطح نه ډېره اوچته شاعري د. په دغه وجه خو پير محمد کاکړ دغې مشکل لفظونو ته وحشي لفظونه وائي.

د مـــــرزا شـــــعر بـــــه جـــــوړ وهٔ ولـــــې درېـــــغه
پـــــه وحشـــــي الفـــــاظو دهٔ کـــــړو ويـــــران شـــــعر4

د خوشحال بابا او رحمان بابا سره سم نورو شاعرانو هم په ډېر ښهٔ او درنو لفظونو ياد کړے دے. دا د دې خبرې دليل دے چې مرزا خان انصاري ښهٔ شهرت لرلو. د مرزا خان انصاري شاعري د مذهب، فلسفې، روښاني فکر، محبت او رومان امتزاج دے. د روښاني مکتب د فکر د ترويج عنصر سره سم مذهب، فلسفه او رومان په داسې روماني انداز رايوځاې شوي دي چې د هر ذوق لرونکي نظر ځان ته راکش کوي. په دې مقاله کښې به د مرزا خان انصاري په شاعرۍ کښې په رومانيت بحث کولے شي خو اول دا ضروري ده چې په رومانيت هم اجمالي بحث اوشي.

د روماني تحريک په حقله ايف اے لوکاس په خپل کتاب Decline and fall of the Roman Empire کښې ليکي:

*''رومانیت کی گیارہ ہزار تین سو چھیانوے تعریفیں ہیں، کسی نے اس کو تحیر کی نشاۃ الثانیہ کہا ہے اور کسی کی نظر میں یہ تخلیقی شعور کا غیر*

معمولی ارتقاء ہے''[5]۔

د رومانیت ابتدا د فرانس انقلاب د ے ۱۷۸۹ ... د روسو مشهوره جمله ده چې انسان ازاد پېدا شوے دے خو په هر ګام ئې په پښو کښې زنځير دے. روسو د تقليد او تخليق خلاف دے د هغه د ازادۍ تصور په بغاوت اړانه دے. په کلاسيکي او رومانوي سوچ کښې چې کوم بريد دے د هغې په اړه ګرير سن ليکي:

' تاریخ میں ان کی مثال قلب انسانی کے گھٹنے اور بڑھنے کی حرکت سے دی جاسکتی ہے۔ کلاسیکی ادب کی تحریک نظم وضبط، مختلف اشیا کے امتزاج فکر جذبات اور عمل کو ایک ترتیب کی طرف لے جاتی ہے لیکن رومانوی تحریک کا دائرہ وسیع ہے اور یہ تحریک اہل قلم کو کلاسیکی ادب کے مقررہ اصول کے خلاف آزادروی اور شدت کی طرف لے جاتی ہے''[6]۔

په عمومي توګه په انګرېزۍ ژبه کښې ورډزورتھ، شيلے، کالرج، کيټس او بائرن ته د روماني شاعرۍ علمبردار وئيلے شي خو په دوي کښې په يو مقام هم نقطۀ اشتراک نشته. په دوي کښې مشترک صرف دا دي چې دغه ټول روايات، قوانين، اقدار او د ضوابطو زنځيرونه ماتول غوښتل. په اصل کښې روماني تحريک د خپل دور د ادبي روايت خلاف بغاوت وۀ. د روسو لۀ اړخه د روماني تحريک د پاره د راپورته کړے شوي اواز سره ډېرو شاعرانو او ليکوالو خپل غږ بدرګه کړلو او د ګوئټے، شيلے، وليم بليک، ورډزورتھ او جان کيټس د روماني تحريرونو په مغرب کښې روماني تحريک له وده ورکړه. هغوي د معاشرتي، سماجي او مذهبي رواياتو او اقدارو لۀ دائرې نه د ژوند د ازادۍ هڅې شروع کړلې ، په شلمه پېړۍ کښې چې کله په هند کښې انګرېزي ژبه او ادب د نصاب مستقل برخه شو نو د هند زلمي کول ته د انګرېزۍ د روماني شاعرانو او ليکوالو نه نېغ په نېغ د استفادې موقع په لاس وراغله. دغسې د مغرب په غېږ کښې خصمانه شوے روماني تحريک د هندوستان باشعوره او تعليم يافته طبقه متاثره کړه، د کومې اثر چې د ادب په هر صنف ډېر تېز او زر وشو. په اردو کښې خو د رومانويت د وخت تعين کړے شوے دے کوم چې د ۱۹۰۰ء نه تر ۱۹۳۵ء دے خو د پښتو په اړه دغه تعين ځکه څۀ حتمي خبره نۀ شو کولے چې پښتو ته ادبي اثرات د اردو په لار راځي او دغه هم حقيقت دے چې په دنيا کښې يو ادبي تحريک ختم هم شي او پښتو کښې ئې ايله ايله څرک وهل شروع کړي وي. ولې بيا هم د پښتو ژبې د روښاني او درويزه تحريک په پلويانو کښې په غېر شعوري توګه دغه څرک په نظر راځي. په خصوصي

توګه کۀ مونږ د روښاني تحريک خبره کوو نو څۀ ته چې په ادبي دنيا کښې د تصوف نامه ورکړے شوي ده نو تصوف پخپله د روايت نه د بغاوت لار ده. په دغه تناظر کښې کۀ مونږ روښاني تحريک ته ځير کېږو نو هم دغه تحريک په پښتو کښې د روماني تحريک څرک لري. د دې تحريک د ودې او خصمانې وخت ډېر کم دے خو ولې بيا هم د ادب په تخليق، اجتماعي شعور و ادراک او د شعر د اساليبو باندې چې کوم اثرات غرځولي هغه د ادبي تاريخ يوه لويه برخه ده.

څنګه چې د رومانيت علم بردارو د هر قسم د جبر او ناروا پابنديانو خلاف په ازاد مټ ليک کړے دے. دغسې رومانويت په عالمي ادبياتو ډېر ژور اثرات پرېستلي دي. دا ښه بې ځايه نۀ وي چې د تېرې پېړۍ روشن خيالۍ، خشکې او وېزاروونکي سائنسي انداز فکر، يو مخيز باقۍ راوستونکي مقصديت او هوس خلاف رومانويت د احتجاج غږ پورته کړلو. سائنسي انداز فکر لطيفې جذبې، قلبي احساسات او بې غرضه محبتونه نظر انداز کړي دي. هسې هم کۀ مونږ سوچ کوو نو سائنس د ماديت او جسماني سهولت په اړه کار کوي.هم دغه وجه ده چې ادبيت ئې هم په سائنسي پېمانو د تللو هڅې کولې، خو رومانويت په جذباتي زړۀ راښکون او ښائسته جذبو په وجود خپله توجه وساتله. د رومانويت دغه تېنګار وۀ چې اولسي ادب، داستانونه او ما بعد الطبيعاتي عناصر د ادبي جمالياتو د تفهيم د پاره د فکر بلې ډيوې دي. رومانيت د رومان نه وتلے ټکے دے او رومانس د رومن ژبې نه راغلے دے. د دې لفظ استعمال په دې کښې د يوې ژبې د قيصو، خيالي افسانو، ناول يا نظم د پاره کېږي په کوم کښې چې خيالي او تصوراتي ژوند بنياد جوړ کړے شوے وي. د دې سره سم هغه ليکونه هم د رومانس په زمره کښې شاملولې شي په کوم کښې چې مبالغه،د عشق او محبت معاملې او تخيل پرستۍ رنګ امېزي شوې وي. په عربۍ کښې د رومان نه مقبوله قديمه رزميه قيصه مطلب هم اخستے شي. يوه داسې محير العقول جذباتي افسانه يا ناول په کوم کښې چې د معاشرې صرف خيالي او حېرت ناک تصوير وړاندې کړے شوې وي د رومان په دائره کښې راځي.ږپه فارسۍ کښې د رومان نه مطلب ناول، افسانه يا قيصه ده. په اصل کښې رومان چې په يو وخت کښې د يو لفظ په توګه کارولے کېدلو ورو ورو ئې د يوې ادبي اصطلاح شکل اختيار کړلو او د دې سره تړلي تصوراتو او افکارو د هغه وخت په ادب ډېر ژور اثرات مرتب

کړل. تر اتلسمې پېړۍ د رسېدلو رومانویت د یو ادبي تحریک شکل اختیار کړے وۀ، کوم ته چې به ئې روماني تحریک وئیلو. ډاکټر سید عبدالله د رومانیت د مفهوم په اړه وائي:

"رومانیت کاایک ڈھیلاڈھالا سا مطلب یہ ہے کہ یہ ایک ایسے اسلوب اظہار یا انداز احساس کا اظہار کرتی ہے جس میں فکر کے مقابلے میں تخیل کی
گرفت مضبوط ہو، رسم وروایت کی تقلید سے آزادی خیالات کو سیلاب کی طرح جدھر ان کا رخ ہو، آزادی سے بہنے دیا جائے"[7]

ډاکټر سجاد باقر رضوي لیکي:

"رومانوی ذہن اپنی مثالی دنیا کے تصور میں سرشار گردوپیش کی ٹھوس حقیقتوں سے قطع نظر کرنا چاہتا ہے"[8]

رومانیت یو وسیع تصور په خپله لمن کښې رانغاړي. زمونږ په ادب کښې او بیا په نثر کښې د رومانیت روایت په څۀ نا څۀ شکل کښې موجود دے. په زړو داستانونو کښې روماني انداز هم موجود وۀ دغسې په زړو ناولونو کښې هم د رومانیت عنصر موجود دے. په پښتو ادب کښې رومانیت په یو داسې طرز احساس اډانه دے کوم چې محبت، ازادي او انسان دوستي او کلیوال معاشرتي رنګونه لري. روماني ادیب فطرت پرسته، ماضي پرسته، وطن پرسته، قوم پرسته، انقلاب پرسته او تاریخ پرسته وي په خپل لیک کښې هم دغې طرف ته مائله ښکاري. د رومانیت پلویانو به د حسن، فراغت او غمونو نه ډېړه کولو لارې چارې لټولې او په خپلو لیکونو کښې به هم د داسې نظریاتو ترجماني کوله . په پښتو کښې د روماني تحریک وړومبۍ نخښې په اولسي ادبي اصنافو کښې په نظر راځي . په خصوصي توګه ټپه کښې د اسکر وائلډ نه متاثره جذباتي رویې ته د اظهار موقع په لاس ورغله. د دې سره سم د حمید بابا او مرزا خان انصاري په حواله روماني تحریک یو خاص شکل اختیار کړے دے. د روښاني تحریک په پلویانو کښې واحد مرزا خان انصاري ته دغه امتیاز حاصل دے چې د روماني ادا سره ئې پښتو شعر او روښاني تحریک اشنا کړے حالانکې په دغه تحریک کښې بلها داسې نامې شته چې د خپل فکر د ترویج او اشاعت د پاره ئې د شعر لمن کلکه نیولې ده. د دې سره سم خوشحال بابا هم د یادونې وړ دے چې پښتو ادب ئې په غېر شعوري توګه د رومانیت د خوږو په دریاب سېراب کړے دے. د هغه په شعر کښې د انګلېنډ

د روماني تحریک نخښې نښانې په غېر شعوري انداز په نظر راځي. په دې کښې هیڅ شک نشته چې په پښتو کښې د رومانیت اصطلاح د اردو په لاړ د انګرېزۍ نه راغلي ده خو موضوعاتي لحاظ سره دا خبره واضحه ده چې د پښتو ادب غني جولۍ کښې د اردو نه هم مخکښې د رومان څرکونه ښۀ په جوته توګه موجود وو. د پښتو په روماني شاعرۍ کښې هم لکه د اردو دغه اصول په نظر راځي چې کۀ هجر وي کۀ وصل په هر صورت کښې د خوشحالۍ او خوښۍ هیلې ساتل وي. د اردو په شان پښتو کښې هم روماني شاعرانو د فطرتي حسن په اړه لیک کړے دے. د دوي په خیال بې پروا حسن د خپل وجود د ښکاره کولو د پاره د ابادیو نه زیاتې ویرانۍ خوښوي. غرونه،صحراګانې، دشتې، للمې، ځنګلونه، بیابانونه ،سمندرونه، دریابونه، مرغزارونه، چینې او ابشارونه دغه احساس ورکوي چې داسې یو څوک شته چې دغه دومره ښائسته نظام چ د هغه د قدرت کامله د دغې حسینو او ښکلو منظرونو په لیدلو د حسن او رومان د لاس برۍ یقین نور هم مستحکم کېږي. د روماني شعراو په اسلوب کښې چې کوم ژور نفسیاتي شعور موجود دے د هغې اهمیت مسلم دے. دغې شاعرانو د حسن او رومان په بیان په معاشره کښې د ویزارۍ، جمود او ساډوبۍ د ختمولو هڅې کړې دي او د صبر او برداشت سره سم د استقامت، حوصلې او امېد لارې ئې ښودلې دي.هسې خو د پښتو روماني شاعرۍ ابتدا په رسمي توګه د اسلامیه کالج نه شوې ده خو ولې بیا هم د روښاني مکتب مرزا خان انصاري په ابتدائي دور کښې د رومان بنیاد ایښودلے دے. د مرزا خان انصاري د غزل رنګونه کوټلي، پاخۀ او شوخ دي او دغه خواږۀ ورله د مجازي عشق خوږو ورکړي دي. د دغې کېفیاتو د اظهار د پاره هغه د خوندورې او برجسته تشبیهات، استعارات او محاورات راوړي دي. د خپل جانان قد ته د چنډڼ او زلفو ته ئې د مارانو سره تشبیهه ورکوي او وائي:

ښائســــته صـــــورت ئـــــې ونــــه د چنـــــدڼ ده
او ګېســــو ئــــې تــــرې پرېــــوتي لکــــه مـــار دي[9]

د دې سره سم د عشق د کېف او سرور په حقله چې د کومې مبالغې نه کار اخلي د کتو ده.

پــــه تحمــــــل زمـــــا خـــــراب خـــــاطرورتېږي
او کـــــۀ آه کـــــړم ډېـــــر عـــــالم بـــــه وســـــېزینه10

د دې سره سم مرزا خان انصاري خپل ناز پرور جانان د خپل حالت نه بې خبره ګڼي او ګيله مند شان دے چې زۀ د هجران درانۀ بارونه وړم او زما جانان د څۀ نۀ خبر نۀ دے.

نـــاز پـــرور لـــۀ هســـې حالـــه خبـــر نـــۀ دے
د هجـــــران دغـــــه درانـــــۀ بارونـــــه زۀ وړم11

د هر چا د پاره په دې جهان کښې سکون ارزښت لري او هر څوک هم د دغې سکون په لټون ګرځي خو ولې بيا هم هيڅوک د لټون لۀ خوږو ځان محرومه ګڼي. د عشق خو دے دستور داسې چې د درد او اضطراب د کيفيت ترجماني کوي.

چـــې د يـــار د مينـــې خـــوږ پـــه خـــراب زړۀ وړم
بېهـــوده بـــه د بـــل چـــا منـــت پـــه څـــۀ وړم
د فـــراق د حالـــه هـــيڅ وئـــيلے نـــۀ شـــم
مـــدام اوښـــکې اوېزانـــدې پـــه بانـــۀ وړم12

تلميح هم د خپل تخليقکار د علميت سره سره د جذبې د شدت خاطر په ګوته کوي. مرزا خان انصاري هم د خپلو روماني جذبو د اظهار د پاره د تلميح نه کار اخستے.

کـــۀ صـــورت ئـــې د يوســـف بـــوئي ئـــې د مښـــکو
او د عشـــق لـــوګے ئـــې ځـــي لـــۀ پېرهنـــه13

د مرزا خان انصاري خپل ځانګړے اسلوب دے او هم دغې اسلوب د خپل مکتب د نورو شاعرانو نه منفرد کړے دے. د هغه په شاعرۍ کښې کۀ يو خوا د سنجيده افکارو ذکر مذکور په نظر راځي نو بل خوا د خپل عشق د روايت سره سم د خپل جانان د پېکر د تراش خراش د رنګ او بو د قافلې لاروے دے. د خپل جانان د زلفو ذکر داسې کوي.

د دې مســـتې شـــها زلفـــې تـــار پـــه تـــار دي
غـــوړولي لکـــه ســـبورے پـــه رُخســـار دي14

او بيا وړاندې ئې د مجسم پېکر د ذکر سره زلفې هم په بل شان انداز شعر کوي.

ښائسته صورت ئې ونه د چنډن ده
او ګېسو ئې تورې پرېوتې لکه مار دي15

د مرزا خان شعر کښې چې څومره تنوع او تازګي ده هغه د هغۀ د شعر د رنګ نه جوتېږي. د تېزي مشاهدې او رسا فکرښېتن مرزا خان ځان ته استعارةً مهے وائي ځکه چې څنګه چې مهے د اوبو نه بغېر ژوند نۀ شي کولے دغسې هغه ته هم د خپل جانان د دیدن نه بغېر خپل ژوند ممکن نۀ ښکاري. دغه انداز ئې د کتلو دے ځکه چې د مرزا خان په تقلید نن هم د اوبو او مهي استعاره او تشبیهـ لیکوالان کاروي او د خپل جذبو اظهار پرې کوي.

زۀ همېش د خپل اشنا په دیدن پایم
د مهي حیات وي هومره څو اوبۀ وي16

د هندي سبک ذکر په پښتو شاعرۍ کښې مونږ اورو لولو او سرخېل ئې ماشو خېل حمید بابا منو خو د دغې سبک څرکونه مونږ ته د مرزا خان په شاعرۍ کښې هم په نظر راځي. په خصوصي توګه د امرد پرستۍ عنصر. په ایران کښې د امردپرستۍ رواج دومره سېوا شوے وۀ چې د شېخ سعدي غوندې بزرګ هم د دغې اثر اخستے وۀ او په ګلستان کښې هم د شلو نه سېوا حکایتونه ئې لیکلي دي. دغسې په هند کښې هم د دغې اثر لاندې بلها لیکوال راغلي دي. مرزا خان انصاري هم په دکن کښې د خپل ژوند ډېر سپرلي خزان کړي دي او په هغه ماحول کښې ئې ساه ګانې اخستي دي نو ارو مرو به د هغه په شاعرۍ کښې دغه رنګ هم جوت وي. د خال و خط تذکیره مرزا خان هم کوي او بیا د خپل حسن پرست فطرت د تنده غرې نظر تنده هم په ښائست ماتوي. خو مرزا خان انصاري د خال و خط د موجودګۍ نه هم خوند اخلي وائي:

لکه مخ لۀ خال و خطه سره زېب کړه
هسې سترګې ښائسته تور ئې بانۀ دي17

او بیا د ورځو او ښو د پاره د لیندې او غشو استعاره کارول هم د مرزا خان په تقلید کښې نن هم شاعران راوړي. دغه انداز ئې د کتو دے چې ځان د خپل جانان اشنا بللي او هم په دغه

اشنایت کښې ورته غشي لیندې نیسي. دغه منظر نګارې په کومه استاکارۍ بیانوي لاجواب انداز دے.

دواړه ورځـــې ئـــې لینـــدې بانـــۀ ئـــې غشـــي
و اشـــنا تـــه ئـــې نیـــولي پـــه ګـــزار دي18

د روماني شاعرۍ دغه خاصیت دے چې د جذبو کېفیت کۀ په هره زمانه او وخت کښې وي یو شان وي. دغه یوشان والي کښې د اظهار لارې هم راځي. د خپل محبوب نظر لمبه ګڼل او د سترګې ئې انګار ګڼل کۀ د نن روماني شاعر محاورةً راوړي نو مرزا خان انصاري هم دغې کېف له په خپله شاعرۍ کښې ځائې ورکړے دے لکه وائي:

همېشـــــه د عاشـــق زړۀ وربانـــــدې ســـــوزي
د محبـــوب کاتـــۀ لمبـــه ســـترګې انګـــار دي19

او بل ځائې کښې هم د هندي سبک په تاثر کښې د خپل (نرینه) جانان یاد ژاړي وائي:

زړۀ مـــې خپـــل یـــار پســـې خـــوږېږي
نـــن مـــې بـــار بـــار اشـــنا یـــادېږي20

او هم دغې سره سم د محبت اسرې ته ناست مرزا خان انصاري د جور و ستم، هجران او نورو معروضي حالاتو په تناظر کښې محبت اور ګڼي او وائي:

محبـــــت بـــــې مثلـــــه اور شـــــو
د عاشـــــق پـــــه زړۀ بلېـــــږي21

نن هم دغه مینه اور ګڼلے کېږي او د هغې اظهار مختلفو شاعرانو په مختلفو طریقو د مرزا خان په تقلید کښې کړے دے. مونږ دا هم وئیلے شُو چې د نن په شعر هم د مرزا خان د شاعرۍ اثرات شته.

عشق د رومان بنیاد دے. عشق صرف مجازي وي باقي چې هر څۀ دي او هر څنګه دي هغه د مجاز نه د پناه او فرار لارې چارې دي. کۀ څوک ورته تصوف نامه اخلي او کۀ حقیقي محبت خو حقیقت کښې دغه د فرار لارې دي او په بل لحاظ د مجاز په دریاب کښې د جذب بهانې دي. عشق دے داسې چې عقل په کښې کار پرېږدي یعنې د عقل په تله عشق تلل امکان نۀ لري. د دغې کېف او سرور د پاره بیا د ډېر کرب او درد نه تېرېدل وي ځکه چې عشق او محبت نشه ده او نشه په هر حال کښې کول وي چې څوک پرې هم رااوختي وي.لازمي خبره ده چې د نشې کېف د عقل دروازې بندوي. مرزا خان انصاري هم د دغې کېف او سرور سره اشنا وۀ ځکه خو برملا وائي:

د عشـــــــق درد څـــــــۀ هســـــــې نـــــــۀ دے
چـــــــې عاقـــــــل دي پـــــــرې پـــــــوهېږي[22]

او بیا مخکښې بل انداز هم بیانوي چې:

نـــــــۀ عـــــــلاج نـــــــۀ ئـــــــې درمـــــــان شـــــــته
پـــــــه دارو بـــــــه نـــــــۀ رغېـــــــږي[23]

او دغه د مجازي عشق انتها ده او یو کوټلے حقیقت دے چې د اور سوے په اور رغېږي. بل خوا چې د هجر زهر هم ورسره ګډ شي نو بیا خو ورسره عاشق بل شان رومانس کوي. مرزا خان هم د هجر زهر کوټلي دي او د خپل رنځور وجود په رګ رګ کښې ئې خوارۀ شوي دي. هغه دغه کرب له داسې د شعر پېکر ورکوي:

دا بېلتـــــــون د زهـــــــرو ګـــــــوټ دے
د رنځـــــــور تـــــــر حلـــــــق تېرېـــــــږي[24]

پښتون رومان کښې هجران یو منفرد انداز لري ځکه چې زمونږ روایات او اقدار، سماجي او معاشرتي تقاضې داسې دي چې زمونږ ټول مئینان د هجر د لمبو په سیورې ژوند کوي. هم دغه تاوۀ وي د هجران چې په مختلفو طریقو ئې په مختلفو لفظونو کښې د احاطه کولو هڅې کېږي.

لکه مرزا خان وائي:

د هجـــران لـــهٔ دوکـــه تـــاوهٔ هســـې پـــه زړهٔ ځـــي
لکـــه بـــاد لـــهٔ مخـــه اور پـــه وچ واښـــهٔ ځـــي[25]

د هجران د لمبو ذکر خو هر څوک کوي خو مرزا د محبت د لمبو ذکر هم کوي او محبت ته په نوي زاويه ګوري او د دغې جذبې سره په انداز روښاني رومانس کوي.وائي:

چـــې مـــې پـــر د محبـــت پـــه لمبـــو وســـو
بـــې وزرو مارغـــهٔ څـــو درومـــي پـــه څـــهٔ ځـــي[26]

او بل ځائې ليکي:

پـــه دا هســـې حـــال بـــه صـــبر څـــوک پـــه څـــو کـــه
چـــې دا هســـې شـــيرين عمـــر پـــه کاتـــهٔ ځـــي

او بيا

مـــــړې ايـــــرې لـــــهٔ واړه درده شـــــوې فـــــارغې
تـــل د تـــاوهٔ د لـــوګي بحـــث پـــه ســـکارهٔ ځـــي[27]

د رومانيت تقاضه ده چې هر څوک چې پهٔ زړهٔ هرڅهٔ او هر څنګه ارمان پالي هغه دې ښهٔ په جار ښکاره کړي، هيڅ کله دې هم ورله د معاشرې، سماج، کلچر، مذهب يا بل څهٔ بنديز له وجې يا ويرې په خپل زړهٔ کښې په مرئ نهٔ غلي کېږي. رومانيت د جذباتو د اظهار نوم دے. ځکه خو په تخليق کښې د عقل نه ډډه کوي. جذبات، توهم پرستي، د عشق برملا اظهار، تخيل، نرګسيت، منظر کشي او په بعضې وخت کښې د روايت نه فکري بغاوت د رومانيت توکي دي. خو ولې بيا هم دا په ذهن کښې ايښودل پکار دي چې ادب د يو معاشرې او وخت ترجمان وي او د هرې معاشرې خپل روايات او اقدار وي، څهٔ دائرې وي څهٔ تقاضې وي او ادب هم په دغه دائرو کښې کهٔ مونږ هر څومره کوشش وکړو پابند تخليق کېږي. په نورو

لفظونو کښې کۀ مونږ اووایو چې د نورې نړۍ کلاسیک زمونږ سره د ډېرو روایتي تړلنو رومانیت دے نو بده به نۀ وي.

د مرزا خان انصاري په شاعرۍ کښې د روښاني افکارو نه پرته د خپل ماحول نه د وتلو تمنا يعنې د پرکېفه محبت د تقاضو تکمیل، وروروولي، امن و امان، د قلبي سکون ارزو او د فطرت د حسن لټون سره تړلي مضامین په کراتونو موجود دي. د مرزا خان د لیک د انداز نه داسې محسوسېږي چې هغه ځانله یوه بېله دنیا ابادول غواړي خو هغه د هغې د پاره د څۀ قسمه سختۍ په ځائې د تخیل په شادابۍ انحصار کوي. هغه د خپل دور د نظام سختي نۀ خوښوله او د هغه دغه خواهش وۀ چې د دغې مسمومه ماحول نه خپله غاړه خلاصه کړي. د هغه په اسلوب کښې خو د حالاتو د بدلون تمنا شته خو د غم روزګار په ځل ځول کښې هم هغه د خپل خیال په دنیا کښې د لټون په خاطر په سرابونو پسې ورک شوے ښکاري. د هغه ژوند د بهارونو په ارزو کښې په دکن کښې تیر شوے. د دې نه پس هغه دغه ارزو لري چې ممکنه ده چې د دې زندګۍ نه پس راته سکون چرته نصیب شي.

لــــۀ دي هســـې رنـــځ عـــلاج بـــه څـــوک پـــه څـــو کـــا
چـــې د زړۀ وینـــې روانـــې تـــر لیمـــۀ ځـــي
دواړۀ کســـي ئـــې پـــه وینـــو کښـــې ډوبېـــږي
ســـپینې اوښـــکې لـــوئې لـــوئې پـــه بانـــۀ ځـــي28

د مرزا خان انصاري په شاعرۍ کښې د غم دوران او هجر او فراق جذبات په کراتونو موجودې دي. په دې عالم اب و ګل کښې چې چرته هم نظر اړوي نو په غمونو ئې سترګې ترخېږي. د دغې وجې نه کله کله د رجائیت ښکار شي او کله کله د مایوسۍ په ژورو کښې پرېوځي. په هر حال کښې د غم سره سره د دنیا روزګار هم کوي. د هغه په شاعرۍ کښې د حسن و عشق او ځوانو جذبو زړۀ راښکونکې تذکېرې په نظر راځي. د دې سره سم روماني جذباتیت د مرزاخان انصاري د شاعرۍ مهم اړخ دے. هغه د خپل ماضي د یادونو، د حال د واقعاتو، د مستقبل د امکاناتو او خوبونو د تکمیل په حقله ډېر په مزه ناک انداز اظهار خیال کوي. د هغه په تخیل کښې د یوې خیالي دنیا تصور موجود دے چرته چې د زړۀ سکون او د راحتې فضا موجونه وي. د هغه په روماني شاعرۍ کښې د جذباتي مد و جزر کېفیت مخې ته راځي. د هغه په

اسلوب کښې د محبت د بې ساخته جذباتو کرشمې لوستونکې حېرانوي. هم دغه وجه ده چې مرزا خان انصاري د روښاني مکتب یو ځانګړے اسلوب لرونکے منفرد روماني شاعر دے.

## حوالې

[1] د مرزا خان انصاري دیوان، سمؤنه او خېړنه داکتر پروېز مهجور خوېشکے، ۲۵ نومبر ۲۰۰۴ء، پېښور، ډائریکټر پښتو اکېډمي، ص ب

[2] افضل رضا، پروفېسر، تاج لیکچر نوټس، ۲۰۱۱ء، قیصه خواني، تاج کتب خانه، ص۴۳۵

[3] هم دغه، ص ۱۰۵۸

[4] یار محمد مغموم خټک، ډاکټر، د پښتو صوفیانه شاعري او د معاشرې اصلاح، دوېم ټوک، مشموله پښتو، جلد ۳۷، ۲۰۰۷ء، ص ۸۱

[5] Legouis ،A History of English Literature ، page no. 997

[6] پاشار حمان: تخلیقی ادب، عصری مطبوعات، کراچی، جلد اول، 1980، صفحہ 161.

[7] عبداللہ ڈاکٹر سید: مباحث، مجلس ترقی ادب، لاہور، طبع اول 1965، صفحہ 392

[8] سجاد باقر رضوی ڈاکٹر: مغرب کے تنقیدی اصول، کتابیات، لاہور، طبع اول 1966، صفحہ 318

[9] د مرزا خان انصاري دیوان، ص ۱۵۷

[10] هم دغه، ص ۱۴۶

[11] هم دغه، ص۱۲۶

[12] هم دغه، ص ۱۲۶

[13] هم دغه، ص۱۴۲

[14] هم دغه ،ص۱۵۷

[15] هم دغه، ص ۱۵۷

[16] هم دغه،ص ۱۷۲

[17] هم دغه ،ص ۱۷۲

[18] هم دغه، ص ۱۵۸

[19] هم دغه ، ص ۱۵۸

[20] هم دغه ، ص ۱۲۷

[21] هم دغه ، ص ۱۲۷

[22] هم دغه ، ص ۱۲۸

[23] هم دغه ، ص ۱۲۸

[24] هم دغه ، ص ۱۲۸

[25] هم دغه ، ص ۱۵۲

[26] هم دغه، ص ۱۵۸

[27] هم دغه ، ص ۱۵۷

[28] هم دغه ، ص ۱۵۲